
Welcome Afghans



# کور ته ښه راغلاست - سینټ جانز، نیو فاونډلینډ او لیبراډور




نفوس: **۲۱۲,۵۷۹ خلک ([۲۰۲۱ سرشمېرنه](#))**
(ګڼ شمېر د سویلي او لویدیځي آسیا خلک، عربان او افغانان په کې شامل دي)

## د دې سیمې په اړه

سینټ جانز[۱]

- دنیو فاونډلینډ او لیبراډور ولایت پلازمېنه او لوی ښار دی
- چې د (موټر په واسطه) له ماونټ پیرل ښار سره نږدې موقعیت لري

سینټ جانز د سیګنال غونډۍ قرارځای دی، او دا یو ملي تاریخي ځای دی چېرته چې په ۱۹۰۱ کې لومړنی راډیویي سیګنال ترلاسه شوی ؤ. د داسي خلکو په درلودلو سره یو زړه راښکونکی ښار چې د طنز او خوښۍ احساسات یې د ټول هېواد په کچه پېژندل شوي دي، سینټ جانز ښار هڅه کوي چې د خپلو ټولو اوسېدونکو لپاره یو پرمختللی او ټول شموله ښار اوسي.

سینټ جانز د خپلې بډایه طبیعي ښکلا له مخې پیژندل کیږي. ژمی یې سوړ او واورین وي چې د جنورۍ په میاشت کې یې منځنۍ ورځنۍ ټیټه درجه د سانتي ګراد په کچه -۷ °درجې وي. اوړي یې ګرم وي، د جولای په میاشت کې یې ورځنۍ منځنۍ لوړه درجه د سانتي ګراد په کچه 26° درجې وي. ځینې هغه فعالیتونه چې په سینټ جانز او نوي فاونډلینډ او لیبراډور پورې ځانګړي دي په هغو کې

- د ترټولو لوی ماهي لیدنه
- د واورو د لویو کنګلونو لیدنه
- په لویو پرخو باندې د پوفین په نوم د ځانګړو مرغانو لیدنه شاملیږي

---

[۱] دلته ورکړل شوي ټول لېنکونه یواځې په انګلیسي ژبه دي.



په دې پس منظر یا شالید کې یو سړی د سینټ جانز بندر له لارې د کابوټ ټاور پر لور د سیګنال غونډۍ ته روان دی.

## د سینټ جانز خلکو او ځمکې په اړه

د دې ځای خلک په کاناډا کې له اروپایي میشتو او هغو خلکو له رسیدو څخه مخکې دلته اوسیږي چې دغه ځمکه یې د لومړي ځل لپاره کشف کړې وه. سینټ جانز، لکه د نوي فاونډلینډ او لیبراډور د پاتې نورو سیمو په څیر، د بیوتوک په غیر منقطع او دودیزه سیمه، د میکماق (میګ- ماه) ، او د هغوی د نیکونو په ځمکه او د اینو او اینویت ملیتونو په ځمکو کې موقعیت لري



په سینټ جانز بندر کې خلک په اوبو کې د یوه جوړ شوي ساختمان پر سر ولاړ دي، او د سیګنال له غونډۍ څخه انځورونه اخلي.

## ورځنی ژوند، دنده او ښوونځي ته تلل

سینټ جانز په دنده کې د پرمختګ، سوداګرۍ کولو، زده کړو او بشپړ ورځني ژوندانه لپاره غوره ځای ګڼل کیږي.

تاسو کولی شئ په سینټ جانز کې په دغو صنعتونو یا فابریکو کې دندې پیداکړئ لکه

- روغتیا
- ښوونه او روزنه
- طبیعي سرچینې
- کرنه او زراعت
- سیاحت

د نیوفونډلینډ او لیبراډور کې لږ تر لږه رسمي تنخواه په یو ساعت کې ۱۴,۵۰ ډالره ښودل شوې ده.

د کور کرایې پکې توپیر کوي. د یوې کورنۍ لپاره یکې د کور اخیستلو منځنۍ قیمت نږدې ۴۲۰,۰۰۰ ډالره دی. د ۲ کوټو لرونکې اپارتمان په میاشت کې نږدې ۱,۰۰۰ ډالره کرایه درلودلی شي.

د نیوفونډلینډ او لیبراډور له ځایي دولت څخه د کور کرایې کونکو او کرایې ورکونکو د حقوقو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

یو شمېر ښوونځي، د ورځنۍ پاملرنې خدمات، او له ښوونځي وروسته پروګرامونه پکې په دواړو انګلیسي او فرانسوي ژبو د لاسرسي وړ دي. په کاناډا کې، زده کوونکي زیاتره له وړکتون (له ۳ یا ۴ کلنۍ) څخه تر ۱۲م ټولګي (تر ۱۷ یا ۱۸ کلنۍ) پورې ښوونځي ته ځي. له هغې وروسته، دوی کولی شي کالج یا پوهنتون ته ولاړ شي یا هم دنده پیل کړي.

نیو فاونډلینډ او لیبراډور یو پوهنتون لري چې، د میموریل پوهنتون په نوم یادیږي.

دلته ګڼ شمېر کالجونه هم شتون لري چې په لاندې ډول دي او له سینټ جانز څخه په موټر کې د ۱۰۰ کېلومترو په واټن قرار لري

- د شمالي اتلانتیک کالج
- د کوینز کالج
- د نرسنګ زده کړو ختیځ روغتیایي مرکز

تاسو کولی شئ دلته ګڼ شمېر سپورتونه هم وکړئ، لکه

- منډه وهنه
- سکواش
- هاکي
- کرکټ
- ګولي فوټبال (فوټبال)
- بیسبال
- لامبو وهنه

له YMCA څخه د تفریحي فعالیتونو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

دغه سیمه خپل د خوښیو ډک ژوندانه هنري او کلتوري صحنو

- د موسیقۍ
- د تیاتر یا سینمایي تولیداتو
- او نورو فعالیتونو د لرلو له مخې پېژندل کیږي
- مجلسونه
- موزیمونه او تاریخي ځایونه
- جشنونه

تاسو کولی شئ له عامه پارکونو، جهیلونو، او د ساتیرۍ له فعالیتونو لکه په اوړي کې د خېمې له لګولو، په بېړۍ کې له تللو او کب نیولو، او په ژمي کې د واورې له غرنیزې لوبې، د واورې له عادي لوبې او د یخ له لوبې څخه خوند واخلئ.

## دیني او کلتوري اتحادیې

*د کاناډا د حقوقو او آزادیو منشور* لاندې، تاسو کولی شئ په کاناډا کې د خپلې خوښې دین پلی کړئ. تاسو ته د خدماتو چمتو کوونکې اداره کولی شي له تاسو سره په نیوفونډلینډ او لیبراډور کې د سیمه ییزو کلتوري اتحادیو سره په اړیکه نیولو کې مرسته وکړي.

## ځانګړي خواړه

په دې سیمه کې د خوراکي توکو ګڼ شمېر پلورنځي نړیوال خوراکي توکي پلوري. ډیری لوی سوپر مارکیټونه او د مینځني ختیځ اړوند ګڼ شمېر پرچون پلورنځي حلاله غوښه هم پکې پلوري. ستاسو د خدماتو چمتو کوونکي اداره کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو خپلې سیمې ته نږدې پلورنځی پیداکړئ.

## د نویو راغلو اشخاصو لپاره ګټور معلومات

په دې سیمه کې له تاسو سره د مرستې لپاره نورې سرچینې

- کاناډا ته ښه راغلاست: د نوي راغلو اشخاصو لپاره د خیرونو لړۍ
- خپلې سیمې ته نږدې د نوي راغلو اشخاصو اړوند نوي خدمتونه پیداکړئ
- کډوالي او په کاناډا کې ځای پرځای کېدل
- نوي فاونډلینډ ته د نویو راغلو اشخاصو اړوند لارښود
- د نوي فاونډلینډ او لیبراډور د څو کلتوري مېرمنو اداره
- د نوي فاونډلینډ او لیبراډور فرانکوفونونه
- په نوي فاونډلینډ او لیبراډور کې د مسلمانانو اتحادیه
- د سینټ جانز د همکارۍ مرکز